# د ملګروملتونو سازمان (FN)

*Logoen til FN (pixabay.com).*

د ملګروملتونو د سازمان د نوم لنډیز FN دی ، دا سازمان د نړیوالې سولې د ټینګښت لپاره کار کوي.

## ملګري ملتونه څه ته وايي؟

له ۱۹۳۹ میلادي کال څخه تر ۱۹۴۵ میلادي کال پورې ، په نړۍ کې لوی جنګ و. په دی جګړه کې د نړۍ ډېرهیوادونه ښکیل و. دا جنګ دوهم نړیوال جنګ وبلل شو. ډیر څه ویجاړ شول او ډیری خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړ. له همدې امله ، ډیری خلکو د نوي نړیوال جنګ څخه ویره درلوده. نړۍ داسې کسانو ته اړتیا درلوده چې وکولی شي د بل لوی جنګ مخه ونیسي. له همدې امله د ملګرو ملتونه بنسټ په ۱۹۴۲ میلادي کال کې د نړۍ د سولې د ټینګښت لپاره کیښودل شو. په انګلیسي کې د ملګرو ملتونو سازمان ته FN ویل کیږي.

ملګرو ملتونو یو منشور جوړه کړ چې د ملګرو ملتونو تړون ونومول شو . ملګري ملتونه د دی تړون یا منشور له مخې پریکړه کوي چې په کومو دندو کار وکړي اوڅنګه یې باید ترسره کړي. ناروې او 50 نورو هیوادونو د ملګرو ملتونو تړون لاسلیک کړی. د ملګرو ملتونو منشور د اکتوبر په ۲۴، ۱۹۴۵ تصویب شواو په خپلو دندو یې پیل وکړ. همدا لامل دی چې هر کال په ټوله نړۍ کې د اکتوبر څلور ویشتمه د ملګرو ملتونو د نړیوالې ورځې په توګه لمانځل کیږي.



*Foto: Signering av FN-pakten (fn.no).*

اوس مهال په ۲۰۲۰ کې، د نړۍ ۱۹۳ هېوادونه د ملګرو ملتونو غړې دي ، او د ملګرو ملتونو اصلی مرکز د متحده ایالاتو په نیویارک ښار کې دی.

نن ورځ ، ملګري ملتونه ډیری غړي هیوادونه لري چې په مختلفوژبو خبرې کوي. د دې لپاره چې هرڅوک پوه شي او د دې وړتیا ولري چې خپل نظر څرګند کړي، غونډې او سندونه په څو ژبو ژباړل کیږي.

د ملګرو ملتونو نښان پنځه کړۍ او د نړۍ یوه سپینه نقشه لري چیرې چې شمالي قطب د نقشې مرکز دی. د نړۍ د نقشې په بهرنۍ برخه کې دوه د زیتون څانګې شتون لري. دا نښان د ملګرو ملتونو موخه چې په نړۍ کې د سولې او ثبات ټینګښت او تامینولو دی ، څرګندوی . ډیری ښوونځي د اکتوبر په څلورویشتمه د ملګرو ملتونو د بیرغ سره سمبالیږي. بیرغ آبی رنګ لری او په مینځ کې یې د ملګرو ملتونو نښان دی.



*Bilde: FNs logo (fn-filuren.no).*

## د ملګري ملتونه دنده څه ده؟

ملګري ملتونه غواړي نړۍ د هرچا لپاره غوره ځای وي. او اصلي موخې يې دادی.

- د نړيوالې سولې او امنيت ساتنه.
- ډاډ من شئ چې ټول هيوادونه د بشر د حقوقو ملاتړ کوی.
- باثباته پرمختګ ولرئ.
- د ملګرو ملتونو د باثباته ودی د اهدافو د پرمختګ لپاره کار وکړئ.

## سوله او امنيت

ملګري ملتونه يوه خوندي نړۍ غواړي. له همدې امله د هغه هيوادونو سره چې خپل منځی مخالفت لری ، خبرې کوي . دوی د وسلوله کارولو نه پرته مذاکرې ته رابولی او د حل لار مومی. ځينې وختونه د هيوادونو تر منځ همکاري ستونزمنه کيږی. نو بيا په هغه هيوادونوکی چې په شخړه کی ښکيل دی ، د سولې او امنيت د خوندي ساتلولپاره ملګري ملتونه پريکړه کولی شي چې له نظامي ځواک نه کار واخلي، په هغه هيوادونو کی چې جنګ دی، ملګري ملتونه د خلکو سره د جنګ نه په تېښته کی مرسته کوي . کډوالو ته اوبه، خواړه، درمل او د خوب کولو ځای  ورکوي.

## دبشر حقونه

ملګري ملتونه قواعد منظوروی اوپام کوی چی دا قواعد د هيوادونو لخوا مراعات شی ، ترڅو ټول خلک ښه ژوند ولري. د ملګرو ملتونو لپاره مهمه موضوع دا ده چې هرچا ته دعقيدی او د بيان دازادی حق ورکړشيمور. دې ته د مذهب او د  بيان ازادي وايو. بله مهمه مسله چې ملګري ملتونه پرې کار کوي هغه د ښځو بشري حقونه دي. ښځې بايد د نارينو په شان د زده کړې او کار حق ولري ، خپل نظر څرګند کړي او په سياست کې برخه واخلي.

بل هغه څه چی د ملګرو ملتونو لپاره مهم دي ، هغه دادی چې ټول ماشومان بايد ښه ژوند ولري ، ښوونځي ته لاړ شي او خواړه او اوبه ولري.  له همدې امله ، ملګرو ملتونو د ماشومانو لپاره ځانته قواعد ليکلي، چې ماشومان دکوموحقونومستحق دي ، او د ښه ژوند لپاره څه شي ته اړتيا لري . دې مقرراتو ته د ماشومانو حقونه ويل کيږي.

## پایداره پرمختګ

پایداره پرمختګ د اقلیم ، چاپیریال او طبیعت ساتنې ته اړین دی. انسانان باید د ځمکې نه  په ښه طریقه ګټه واخلی. هغه څه چی نن لرو باید ښه پام پری وکړو ترڅو وروسته له موږ. څخه انسانان د اوږدی مودی لپاره په ځمکه کې ژوند وکړاي شی . نن ورځ ماشومان او ځوانان د باثباته ودی په اړه فکر کوي. دوی د چاپیریال د ساتنې له پاره عمل کوی او په طبیعت ښه پام کوی. ملګري ملتونه هم د دوی ملاتړ کوي.

ملګری ملتونو د ملګرو ملتونو د پایداری ودې د اهدافو  په نوم یو پلان جوړ کړی دی. د هدف درلودل یعنی دا چی د یوه څه د ښه کیدو لپاره باید کار وشی. د ملګري ملتونه موخه داده چی هیڅوک بیوزله نه وي ، ټول حق لري چې ښوونځي ته لاړشي ، زده کړې وکړي ، کار وکړي او پرته له ویرې خپل نظر ووایي او ډیری انسانان د چاپیریال د ساتنې سره سم ژوند  وکړي. چی دا اهداف به تر ۲۰۳۰ پوری پلی شی. د دوامداره ودې  ۱۷  اهداف شتون لري. ملګري ملتونه په ټولو هیوادونو کې له ټولو خلکو نه غواړي چې د نړی د ښه والي لپاره هڅه وکړي.




*Les mer om FNs bærekraftsmål på fn.no.*

## څوک څه کار کوي؟

د دې لپاره چې د ملګرو ملتونو  سازمان خپلې‌ټولې دندی ښی ترسره کړي ، باید کارونه سره تقسیم کړي. له همدې امله، دوی مختلف ډلې رامینځته کړي. موږ. دې ډلو ته ارګانونه وایو.

## دملګروملتو عمومي اسامبله

عمومي اسامبله یاعمومي غونډه په ملګرو ملتونو کې  ترټولو ستر ارګان دی. د عمومي اسامبله ترټولو مهمه دنده د نړۍ  اړوند مسایل تر بحث او غور لاندې نیول دی ، او پریکړه کوي چې ملګري ملتونه باید څه وکړي او څنګه يې وکړي. دلته د هر هیواد څخه یو استازی غړیتوب لری ، او هر هیواد د رایې ورکولوحق لري.

## د ملګروملتونو د بشري حقونو شورا

کله چې د ملګرو ملتونوسازمان رامینځ ته شو ، ترټولو مهمه دنده يې دا وه چی  په ډاګه ګړی چی ټول انسانان د هوسا ژوند لپاره څه ته اړتیا لري. دی ته دبشر حقونه  ویل کیږی. د بشري حقونو شورا ترټولو مهمه دنده دا ده چې ډاډ ترلاسه کړي چې ټول هیوادونه بشري حقونو  تطبیقوی او د هغو هیوادونو سره مرسته وکړي کوم چې د بشري حقونو دتطبیقولو لپاره مرستې ته اړتیا لري. شورا  ۴۷  غړي لري چې د دریو کلونو لپاره ټاکل کیږي. د بشري حقونو شورا د سویس په جینیوا ښار کې غونډه کوي.

## د ملګروملتونو د امنیت شورا

د امنیت شورا  د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت دنده پر غاړه لري. . په شورا کې  ۱۵  غړي دي. که چیرې په نړۍ کې لانجی او اختالفونه رامنځ ته شي  ، نو د امنیت شورا دنده ده چې داسی مسلې له سوله ییزی لارې حل کړي. او د وسلو  له کارونې څخه ډډه وشي. شورا په شخړه کې  د ښکیلو اړخونو سره مرسته کوي ترڅو  چی د یو بل سره دخبرو له لارې د حل هڅه وکړئ. دې ته  مذاکرات یا خبرې اتر  ویل کیږي.

## ***د ملګرو ملتونو سکرتریت***

د ملګرو ملتونو کار د یوې ادارې لخوا اداره کیږي چې دوی يې د سکرتریت په نامه یادوي. د سکرتریت دنده دا ده چې د ملګري ملتونه ټولې دندې سره تنظیمې کړي . هغه څوک چې په سکرتریت کې پریکړه کوي عمومي منشي بلل کیږي.
هغه دملګرو ملتونو د سازمان د ټول نه لوړپوړی اداري مقام دی.
ملګري ملتونه د ناروې لپاره ، ډیری ارزښت لري. یو دلیل يې دا دی چې د ملګرو ملتونو لومړی سکرټر ناروېژي و. د هغه نوم ټریګوې لیې  Trygve Lie  و. ایا تاسو پوهیږئ چې همدا اوس د ملګرو ملتونو سرمنشي څوک دی؟



*Foto: Den første generalsekretæren, Trygve Lie (fn.no).*

## دندې:

١ . ملګرې ملتونو کله او ولې جوړ شو؟

٢ . د ملګرو ملتونو د سازمان منشور څه شی دی؟

٣ . موږ د ملګرو ملتونو د ورځ په نامه کومه ورځ لمانځو او ولې په دې ځانګړي نیټه لمانځل کیږي؟

۴ .د ملګرو ملتونه سازمان نن ورځ څومره غړي هیوادونه لري؟

۵ .د ملګرو ملتونو د سازمان اصلی مرکزي دفتر چیرته دی؟

۶ .د ملګرو ملتونو د سازمان لومړنی منشي څوک و؟

٧ .د ملګرو ملتونو د سازمان د اوسنی سرمنشي نوم څه دی ؟

٨ . د ملګرو ملتونه د سازمان دنده څه ده؟

.٩ کولی شئ چی انټرنیټ وکاروئ او د ملګرو ملتونو دځلور باثباته ودی د اهدافو په اړه ، چې ستاسو له نظره مهم دي ولیکئ ؟ او ولې ستاسو په نظر دا اهداف مهم دي؟